# بانک The Bank

میاشتنۍ | Monthly | ماهنامه

۱۹۹ گڼه – ۱۴۴۵ رجب المرجب – ۱۴۰۲ سلواغه




## افغانۍ
## د نړۍ د غوره پولي واحدونو په قطار کې

۲۱ پاڼه

## راز موفقیت ویتنام در برابر فقر شدید

صفحه ۹

## The Effects of Foreign Aid on Economic Development

P 31

# اطلاعیه د افغانستان بانک!

د افغانستان بانک جهت تنظیم بهتر بازارهای پولی کشور، جواز فعالیت صرافی وخدمات پولی را تحت عنوان شرکت به اشـــخاص واجد شــرایط صادر نموده است. این شرکتها مکلف اند تا مطابق قــوانین و مقــررات نافذه فعالیت نمایند. فعالیت اشخاص بدون جواز در بازار های پولی سراسر کشــور مجاز نبـوده و غیر قانونی است. لذا از هموطنان عزیز تقاضا بــه عمل می آید تا جهت تطبــیق قوانین و مقررات و مصئونیت معاملات پولی خویش، از انجام معامله با اشخاص بدون جواز جدا خودداری نموده و وجیبه ملی خویش را ادا نمایند.





# بانک

| مخ | لړلـــــــیک / فهرست |
|---|---|
| ۱ | د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د مالي ثبات کمیټې دویمه غونډه |
| ۳ | جلسه شورای عالی د افغانستان بانک تدویر گردید |
| ۴ | د بانکي او مالی سکتور  د ملاتړ په موخه د هېواد په سویل ختیځ زون کې غونډه |
| ۵ | کمیته مدیریت خطرات ورعایت قانون د افغانستان بانک تدویر گردید |
| ۶ | د افغانستان بانک او د مس عینک د استخراج او پروسس شرکت د مسؤلینو غونډه |
| ۷ | نشستی پیرامون توسعه بانکداری الکترونیکی راه اندازی گردید |
| ۸ | د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون |
| ۹ | تجارت و سرمایه گذاری خارجی: راز موفقیت ویتنام در برابر فقر شدید! |
| ۱۲ | د مالي شمولیت په وده کې د اسلامي کوچنیو تمویلاتو رول |
| ۱۵ | دهلیز واخان و اهمیت اقتصادی آن |
| ۱۹ | اقتصادي خبرونه |
| ۲۱ | افغانی د نړۍ د غوره پولي واحدونو په قطار کې |
| ۳۱ | The Effects of Foreign Aid on Economic Development |


د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسوول مدیر: انور الله حیات

خبریال: سید خالد خالقیار

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسوول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

## په مشرۍ د مالي ثبات کمیټې دویمه غونډه جوړه شوه

۱۴۴۵رجب المرجب ۳۰ – د ریاست الوزراء لومړي مرستیال او د اقتصادي عالي شورا رئیس ښاغلي الحاج مُلا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي شورا، د مالي ثبات کمیټې او د مجوزو بانکونو د سهمدارانو ترمنځ د بانکي سکتور د ستونزو ارزولو او د حل لارو موندلو په موخه د افغانستان بانک د کنفرانسونو په تالار کې د مالي ثبات کمیټې دویمه غونډه جوړه شوه. په دې ناسته کې د مالي ثبات کمیټې د لومړۍ غونډې په وړاندیزونو، پرېکړو او پرمختګونو او د بانکي سکتور پر فعالیتونو، ننګونو او لاسته راوړنو خبرې اترې وشوې او ګډونوالو له یو بل سره نظرونه شریک کړل.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري د غونډې په پرانیستونکې وینا کې د افغانستان بانکي سکتور پر لوړو ژورو رڼا واچوله او ویې

ویل چې د هېواد بانکي سکتور په بحراني وضعیت کې د بانک مشرتابه ته وسپارل شو او پر یاد سکتور د خلکو د اعتماد کچه خورا راټیټه شوې وه خو د نړیوالو د منفي وړاندوینو برعکس د الله تعالی په فضل نه یواځې دا چې بانکي سکتور بیرته پر خپلو پښو ودرید، بلکه ډیرې لاسته راوړنې او پرمختګونه هم لري چې په دې برخه کې د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ غوره ارزښت، د بانکي سکتور ټیکاو، د انفلاسیون کنټرول، د اسلامي بانکوالۍ ترویج او پر بانکي سکتور د خلکو د باور زیاتوالی ښې بیلګې دي .

ښاغلي بدري زیاته کړه چې سربېره پر دې، د افغانستان بانک د بانکي سکتور وضعیت د لا ښه والي لپاره مؤثر پروګرامونه په پام کې لري او ژمن دی ترڅو د غوره پالیسیو او ستراتیژیو له لارې د هېواد په اقتصادي پرمختګ او هوساینه کې خپل اغیزناک رول ولوبوي.

ورپسې، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د اقتصادي عالي شورا رئیس ښاغلي الحاج مُلا عبدالغني برادر آخند وویل چې بانکي سکتور د هېواد په رغونه او اقتصادي پرمختګ کې ځانګړی رول لري او په دې سکتور کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي چې په پایله کې یې د خلکو او سوداګرو باور بیرته ترلاسه کړی دی .

ښاغلي الحاج مُلا برادر آخند خلکو او سوداګرو ته د غوره بانکي خدمتونو پر وړاندې کولو او د بانکي سکتور د ستونزو پر هوارولو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې حکومت ژمن دی ترڅو د هېواد د اقتصادي ستونزو د حل کولو په موخه کوټلي ګامونه پورته کړي.

نوموړي وویل چې خلکو ته د کاري فرصتونو برابرول، د انفلاسیون کنترول، د کانونو قانوني استخراج، د زراعت سکتور معیاري کول، د اوبو مدیریت، د بهرنیو پانګو جذبول او په ټوله کې اقتصادي ودې او سوکالۍ ته لاره هوارول د حکومت د اوږد مهاله پلانونو برخه ده.

ښاغلي الحاج مُلا عبدالغني برادر د خپلو خبرو په بله برخه کې سهمدارانو ته د هغوی د ځان او مال د امنیت ډاډ ورکړ او ویې ویل چې په هېواد کې ستاسو د بانکونو د تمویل او پانګونې لپاره په کامله توګه خوندي چاپېریال رامنځته شوی دی او تاسې کولای شئ چې د خپلو بانکونو په پیاوړي کولو مو د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ونډه واخلئ.

هغه د بانکونو سهمدارانو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او له هغوی یې وغوښتل چې وطن ته راستانه شي او د حکومت د اقتصادي موخو په ترلاسه کولو کې د سهمدارانو، سوداګرو او پانګوالو څخه د هغوی د همکاریو غوښتونکی شو.

له هغه وروسته، د مالیې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا ناصر آخند ګډونوالو ته وینا وکړه او ویې ویل چې د مالیې وزارت د مالي ثبات د ډاډمنولو لپاره بیلابیل ګامونه پورته کړي دي او د بانکي سکتور د پیاوړتیا په برخه کې یې د افغانستان بانک سره په همغږۍ ونډه اخیستې ده چې ښې بیلګې یې ټولې مالي چارې او لګښتونه د بانکونو له لارې ترسره کول، د بانکونو د صعب الحصول پورونو د ترلاسه کولو لپاره کمیسیون جوړول، د مالیې وزارت له آدرسه په محاکمو کې د بانکونو قضیې ژر څېړل او حل کول او ټول عواید د بانکونو له لارې راټولول دي. همداراز، نوموړي زیاته کړه چې د مالي ثبات د ډاډمنولو په برخه کې نور پروګرامونه هم په پام کې لري چې په راتلونکي کې به عملي شي.

په دې غونډه کې د مجوزو بانکونو سهمدارانو هم په خپل وار په آنلاین او حضوري ډول د غونډې ګډونوالو سره خپل وړاندیزونه، ستونزې، سپارښتنې او نظرونه شریک کړل او د هېواد د بانکي سکتور د لا پیاوړتیا په برخه کې یې خپلې ژمنې تازه کړې. همداراز هغوی د بانکي سکتور د ثبات په برخه کې د افغانستان بانک هلې ځلې وستایلې.

د دې ناستې جمع بندي د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد لخوا ترسره شوه. ښاغلي خالد د ګډونوالو د نیکو نظرونو په تړاو د قدردانۍ څرګندونه وکړه او د مالي ثبات کمیټه یې د بانکي سکتور د ستونزو د حل کولو په برخه کې مؤثره وګڼله او ویې ویل چې د افغانستان بانک به په خپل وار د بانکي سکتور د لا پیاوړتیا په برخه کې اغیزناکې او دوامدارې هڅې وکړي.

# جلسه شورای عالی د افغانستان بانک، تدویر گردید



۲۹ رجب المرجب ۱۴۴۵- جلسه شورای عالی تحت ریاست محترم هدایت الله بدری سرپرست کُل د افغانستان بانک، راه اندازی گردید.

محترم هدایت الله بدری سرپرست کُل د افغانستان بانک در ابتدای این جلسه پیرامون سیاست های پولی، وضعیت سکتور بانکی، توسعه بانکداری اسلامی و شماری از موضوعات مرتبط، صحبت نموده و دست آورد ها در این خصوص را بشکل مفصل با اعضای شورای عالی شریک نمود.

طی این نشست گزارش های شش ماه اول سال ۱۴۰۲ پیرامون تطبیق سیاست های پولی، سکتور بانکی، بانکداری اسلامی، ذخایر ارزی، رعایت خطرات و قوانین، تشکیل منابع بشری بانک و شماری از موضوعات مختلف، برای اعضای شورا ارایه گردید.

در ادامه این نشست روی فعالیت های سیاست پولی، پلان اجمالی نیمه دوم ۱۴۰۲ سیاست پولی، رهنمود کمک های نقدی حالات اضطراری، بخش های رهنمود بانکداری اسلامی، مقرره تنظیم و نظارت از موسسات پولی الکترونیکی، رهنمود نظارت و تعقیب خارج از ساحه، مقرره جلوگیری فعالیت ها و اقدامات پولشویی و تمویل تروریزم، مقرره لیلام اسعار، مقرره عملیاتی تادیات داخلی د افغانستان بانک و تعدیلات مقرره تنظیم و نظارت اجاره مالی صحبت گردیده، تصامیم لازم اتخاذ گردید.

همینگونه طی این نشست روی شاخص های مصؤنیت مالی و شماری از رهنمود ها، اقدامات تنفیذی، مقررات و لوایح بحث گردید.

جلسات شورای عالی د افغانستان بانک منحیث عالی ترین مرجع تصمیم گیری بشکل ربعوار در هر سال چهار مرتبه روی سیاست های پولی، فعالیت ها، وظایف و دست آورد های سکتور بانکی، برگزار میگردد که طی آن پیرامون موضوعات سکتور بانکی بحث و با در نظر داشت فعالیت ها و تقویت سکتور، تصامیم اتخاذ می نمایند.

باید گفت که این جلسه در تالار شورای عالی د افغانستان بانک راه اندازی گردیده و اعضای آن بشکل حضوری و آنلاین در این نشست اشتراک ورزیده بودند.

# د بانکي او مالي سکتور د ملاتړ په موخه د هېواد په سویل ختیځ زون کې لویه غونډه جوړه شوه

۱۴۴۵رجب المرجب ۲۴ – د افغانستان بانک په نوښت د هېواد په سویل ختیځ زون پکتیا ولایت کې غونډه جوړه شوه چې د پکتیا، پکتیکا، خوست او غزني ولایتونو محترمو ولایتي چارواکو په شمول پکې نورو حکومتي ادارو هم ګډون کړی وو او خلک یې د بانکي سکتور او د افغانستان بانک نورو سیاستونو ملاتړ ته وهڅول.

د دې غونډې په پیل کې د پکتیا د والي مرستیال ښاغلي شیخ انعام الله صلاح الدین خبرې وکړې او میلمنو او د افغانستان بانک پلاوي ته یې د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ د افغانستان بانک د کړنو، په ځانګړې توګه د افغانۍ د نرخ د ثبات ستاینه او قدرداني وکړه او له لایزال خدای څخه یې ورته د خلکو د لازیات خدمت توفیق وغوښت.

ښاغلي صلاح الدین د خپلو خبرو په بله برخه کې د چارو په ترسره کولو کې تواضع، اطاعت او ژمنتیا د هېواد د وضعیت په ښه والي کې مهم اصل وباله او له مسئولینو څخه یې وغوښتل ترڅو خپل کاري مسئولیتونه په ښه توګه ترسره کړي .

د دې غونډې په بله برخه کې د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي هدایت الله بدري په اغېزناکه توګه د پولي سیاستونو د پلي کولو، د افغانۍ دودولو، د بانکي سکتور ملاتړ، د صرافیو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو میکانیزه کولو، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا او د افغانستان بانک د نورو لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړې او د یادو سکتورونو د لا ښه والي لپاره یې د علماوو، متنفذینو، سوداګرو او خلکو رول مهم وباله او له دوی څخه یې وغوښتل څو د سیاستونو د اغېزناکه پلي کولو په برخه کې د افغانستان بانک ته د همکارۍ لاس ورکړي .

ښاغلي بدري د خپلو خبرو په اوږدو کې په افغانستان کې اسلامي بانکوالي یوه مهمه اړتیا وبلله او په بنسټیزه توګه د دې سکتور د ترویجولو په برخه کې یې د افغانستان بانک د ژمنتیا یادَونه وکړه او زیاته یې کړه چې په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د لا دودولو او پیاوړي کولو لپاره د خلکو همکاریو ته اړتیا ده.

د غونډې په دوام کې د بانکي سکتور د اوسني وضعیت او راتلونکي اصلاحي پروګرامونو، د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا او مالي خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي او د صرافیو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په تړاو ګډون کوونکو ته د ګڼورو پریزنټیشنونو د وړاندې کولو ترڅنګ بحث او خبرې اترې وشوې.

په پای کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد د غونډې جمعبندي وکړه او په لنډه توګه یې د افغانۍ د دودولو، د راکړې ورکړې پر مهال یې په سمه توګه کارَونې، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا، د صرافیو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او د غیر بانکي مالي مؤسسو د کړنو میکانیزه کولو او بانکي سکتور څخه د ملاتړ په تړاو خبرې وکړې. ښاغلي خالد د دې پروګرامونو په بریالیتوب کې د خلکو رول مهم وباله او له هغوی څخه یې د همکارۍ غوښتنه وکړه.



# کمیته مدیریت خطرات ورعایت قانون د افغانستان بانک تدویر گردید

کمیته مدیریت خطرات ورعایت قانون د افغانستان بانک تحت ریاست محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک با حضورداشت اعضای این کمیته به تاریخ ۳۰ رجب المرجب تدویر گردید.

محترم نور احمد آغا پیرامون اهمیت برگزاری جلسات این کمیته و اتخاذ تدابیر مناسب و لازم برای کاهش خطرات و پیروی از قوانین و مقررات در دافغانستان بانک صحبت نموده تاکید ورزید که جهت پیشبرد موثر امور دافغانستان بانک، تطبیق قوانین و مقررات مبارزه با پولشویی و عواید ناشی از جرایم و لست های تعزیرات ملی و بین المللی نهایت مهم میباشد.

محترم نور احمد آغا همچنان افزود که ارزیابی و شناسایی خطرات مالی و غیر مالی دافغانستان بانک نیزیک امر لازمی و قابل اهمیت بوده و ایجاب می نماید تا جهت کاهش این خطرات پلان کاهش خطرات ترتیب و بشکل موثر توسط آمریت های ذیربط تطبیق گردد. متعاقباً محترم یاسر ذهین منشی کمیته مدیریت خطرات و رعایت قانون دافغانستان بانک که در عین حال آمر عمومی خطرات و رعایت قانون نیز می باشد، گزارش اجراآت کاری آمریت عمومی خطرات و رعایت قانون را که شامل دست آورد ها، ابتکارات، پیشرفت ها، یافته های ارزیابی خطرات غیرمالی ساحات ارزیابی شده د افغانستان بانک که در سال مالی ۲۰۲۳ صورت گرفته بود، ارایه نمود.

متعاقباً اعضای محترم کمیته در مورد دست آورد ها، یافته های ارزیابی خطرات و پیشنهادهای لازم جهت اقدامات پیشگیرانه برای کاهش خطرات تبادل نظر نموده و پیشنهادات مورد نظر را مورد تایید قرار دادند.

قابلیادآوری است که درین جلسه محترم ملا محمد آخند معاون دوم د افغانستان بانک و محترم عبدالوکیل منتظر عضو شورای عالی د افغانستان بانک بحیث اعضای این کمیته اشتراک داشتند که از حمایت و پشتیبانی همه جانبه هیئت رهبری دافغانستان بانک در راستای تقویت رژیم مبارزه با پولشویی و عواید ناشی از جرایم و مدیریت خطرات دافغانستان بانک اطمینان دادند.

# د افغانستان بانک او د مس عینک د استخراج او پروسس شرکت د مسؤلینو ترمنځ غونډه ترسره شوه





۱۴۴۵شعبان المعظم ۱- د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري د عالي شورا په تالار کې د مس عینک د استخراج او پروسس شرکت له مسؤل او پلاوي سره ولیدل. په دې غونډه کې د افغانستان او چین ترمنځ د مالي او بانکي معاملاتو په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کولو او د ستونزو هوارولو په تړاو بحث او خبرې اترې وشوې.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري ګډونوالو ته د افغانستان بانک لخوا د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل چې د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه ژمن دی ترڅو د خپلو عمده موخو او دندو په رڼا کې د ملي پروژو په پلي کولو کې مؤثر رول ولوبوي او د بانکي خدمتونو او بانکي معاملاتو په تړاو د آسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې همکاري وکړي. ښاغلي بدري زیاته کړه چې مسِ عینک د هېواد له لویو پروژو له ډلې څخه ده او د دې پروژې د تطبیق په برخه کې به هر ډول بانکي ستونزو ته پر وخت رسیدنه وشي.

د مسِ عینک د استخراج او پروسس شرکت مسؤل ښاغلي لین بین تو وویل چې په نږدې راتلونکي کې به د مسِ عینک پروژې عملي چارې په بشپړ ډول پیل شي او زموږ شرکت ژمن دی چې د دې پروژې چارې بې له ځنډ او خنډه په پوره ژمنتیا سره پرمخ یوسي. هغه همداراز، په بانکي معاملاتو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې د افغانستان بانک د لا زیاتې همکارۍ غوښتونکی شو .

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په هېواد کې له ټولو ملي پروژو څخه په کلکه ملاتړ کوي او ژمن دی ترڅو د معیاري او اغېزناکو بانکي خدمتونو او آسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې له پانګوالو، شرکتونو او سوداګرو سره له هیڅ ډول همکاریو څخه دریغ ونکړي.

# نشستی پیرامون توسعه بانکداری الکترونیکی، راه اندازی گردید



۱۶ رجب المرجب ۱۴۴۵- جلسه ای پیرامون توسعه بانکداری الکترونیکی تحت ریاست محترم هدایت الله بدری سرپرست کُل د افغانستان بانک، تدویر گردید.

محترم هدایت الله بدری سرپرست کُل د افغانستان بانک طی این نشست پیرامون ارزش بانکداری الکترونیکی صحبت نموده و آن را تقاضای عصر حاضر عنوان نمود. سرپرست دافغانستان بانک از کارمندان بخش های مربوطه خواست تا با تلاش های موثر در راستای توسعه بانکداری الکترونیکی سعی بخرج داده و از این طریق زمینه خدمات هرچه بهتر را برای شهروندان کشور، مساعد نمایند.

متعاقباً کارمندان آمریت سیستم تادیات (APS) پرزنتیشن معلوماتی را پیرامون بخش های ذکر شده، ارائه نموده و در خصوص توسعه بانکداری الکترونیکی میان اشتراک کننده گان بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

جمع بندی این نشست را محترم معراج محمد معراج مشاور ارشد پالیسی د افغانستان بانک نموده، دست آورد ها در زمینه بانکداری الکترونیکی را مهم توصیف کرده و روی هماهنگی و نشست های بیشتر تخنیکی ادارات مربوطه، تاکید ورزید.

# د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون د کاري کمیټې دریمه غونډه جوړه شوه

۱۴۴۵رجب المرجب ۲۶- د مالي راپورونو او معاملو د شنني مرکزد لوی آمر ښاغلي جمال ناصر رؤفي په مشرۍ د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې د عالي کمیسیون د کاري کمیټې دریمه غونډه د بهرنیو چارو، کورنیو چارو، او عدلیې وزارتونو، د سترې محکمې او د استخباراتو عمومي ریاست د ۱۲ واک لرونکو استازو په ګډون د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې جوړه شوه.

د غونډې په پیل کې د همغږۍ عالي کمیسیون د کاري کمیټې رئیس ښاغلي رؤفي د کاري کمیټې د غړو له راتګ څخه مننه وکړه او په ملي او نړیواله کچه يې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې د دې ناستې په اهمیت خبرې وکړې او د نورو اړوندو ادارو پر هراړخیزه همکارۍ يې ټینګار وکړ.

همدارنګه ښاغلي رؤفي په ډاګه کړه چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شنني مرکز له ټولو نړیوالو سیالانو سره مثبتې اړیکې غواړي او اړتیا ده چې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې د همغږۍ عالي کمیسیون پرېکړې او د مالي اقداماتو کاري ډلې (FATF) سپارښتنې په سمه توګه پلي شي او اړتیا ده ترڅو په دې برخه کې یو مؤثر میکانیزم رامنځته شي.

همدا راز د اجنډا له مخې، د همغږۍ د عالي کمیسیون د دارالانشاء نورو غړو د کاري کمیټې د دندو او صلاحیتونو، د پیسو وینځلو، او د هېواد په هوایي ډګرونو او ځمکني سرحدونو کې د نشه يي توکو، اسعارو، سرو زرو او کریمه احجارو له قاچاق سره د مبارزې په برخه کې د اړوندو ادارو ترمنځ د معلوماتو شریکولو پر اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې او له ګډونوالو سره د روزنیزو او د وړتیا لوړولو پروګرامونو د جوړولو په هکله هر اړخیز معلومات شریک شول.

د همغږۍ عالي کمیسیون د کاري کمیټې د دریمې غونډې په پای کې د یادو ادارو واک لرونکو استازو په خپلو ادارو کې د پیسو وینځلو او نورو مالي جرمونو سره د مبارزې په اړه د خپلو کړنو راپور وړاندې کړ او یو ځل بیا یې د هر اړخیزو همکاریو او همغږیو په تړاو د ژمنتیا څرګندونه وکړه.





# تجارت و سرمایه گذاری خارجی:

# راز موفقیت ویتنام در برابر فقر شدید!

**(این مقاله از مجله اکانومیست ترجمه شده است که در ماه سپتمبر سال ۲۰۲۱ در مجله مذکور به نشر رسیده است.)**

سال گذشته ویروس کرونا اثرات منفی خود را بر تمامی کشورهای جهان بر جا گذاشت، اما اقدامات ویتنام در برابر این تاثیرات مورد تحسین جهانیان قرار گرفت. ویتنام در حال حاضر بدترین وضعیت همه گیری کرونا را پشت سر می گذارد، اما الی ۵۰ درصد وضعیت تحت کنترول این کشور می باشد. برخی از

مناطق کشور در قرنطین جدی به سر می برند و بسیاری از کارخانه ها فعالیتهای خود را کاهش داده یا تعطیل کرده اند، به طور مثال شرکت تولید کفش ها در شرکت نایک و کارخانه های تولید موبایل های هوشمند شرکت سامسونگ و غیره، که این باعث ایجاد موانع و تاخیر در روند زنجیره های تامین بین المللی شده است. اما باوجود تاثیرات منفی همه گیری کرونا، اقتصاد این کشور به دلیل ادغام با تولید جهانی همچنان به طور موثر در حال پیشرفت است. در سال ۲۰۲۰، تولیدات ناخالص داخلی این کشور ۲.۹ درصد رشد داشته است، در حالی که کاهش قابل توجهی در رشد اقتصادی بسیاری از کشورها مشاهده شده است. با وجود همه گیری ویروس کرونا، انتظار می رود رشد امسال بهبود یابد. برآوردهای بانک جهانی که به تاریخ ۲۴ آگست منتشر شد، رشد ۴.۸ درصدی را در سال ۲۰۲۱ نشان می دهد.

دلیل این گمانه زنی ها این است که ویتنام راه را برای تجارت و سرمایه گذاری در این کشور باز کرده است. در نتیجه درآمد سرانه تولیدات ناخالص داخلی که مهمترین بخش زنجیره تامین را تشکیل می دهد به ۲۸۰۰ دالر آمریکایی رسیده است. این اقدام به توسعه چشمگیری منجر شده است که طی ۳۰ سال گذشته ویتنام به جمع پنج کشور سریع الرشد پیوسته و کشورهای همسایه خود را در این زمینه پشت سر گذاشته است. همچنین دولت امیدوار است تا سال ۲۰۴۵ ویتنام را به کشوری با عاید بالا تبدیل کند. برای رسیدن به این هدف، اقتصاد این کشور باید هر سال ۷ درصد رشد کند. بنابراین، پرسش این است که راز موفقیت ویتنام چیست و آیا این پیشرفت ادامه خواهد داشت؟

ویتنام اغلب با کشور چین زمان دهه های ۱۹۹۰ و ۲۰۰۰ مقایسه می‌شود، زیرا هر دو کشور کمونیستی اند و توسط یک حزب سیاسی رهبری می شوند که به سیستم های کاپیتالیستی مبدل شده اند و بر رشد اقتصادی مبتنی بر صادرات تمرکز دارند. اما تفاوت های بزرگی نیز وجود دارد و اینکه ویتنام نه تنها بیشتر بر صادرات تمرکز دارد و سطح صادراتش بالاست، بلکه ماهیت کشورهای صادرکننده چیزی است که تفاوت بین ویتنام و چین را ایجاد می کند. ارتباط و پیوند عمیق این کشور با زنجیره تامین بین المللی و سطح بالای سرمایه گذاری خارجی چیزی است که این کشور را می توان با سنگاپور مقایسه کرد. از دهه ۱۹۹۰، ویتنام هر سال عواید سرمایه گذاری مستقیم خارجی خوبی دریافت کرده است که به طور اوسط ۶ درصد تولیدات ناخالص داخلی کشور را تشکیل می دهد، که در مقایسه با چین و کوریای جنوبی چند برابر بیشتر است.


با توسعه آسیای شرقی و افزایش دستمزد نیروی کار، نرخ تبادله ثابت پول ویتنام و هزینه های پایین نیروی کار توجه تولیدکنندگان بین المللی را به خود جلب کرد. این امر سطح صادرات ویتنام را به طور قابل توجهی افزایش داده و در دهه اخیر صادرات شرکت های داخلی ۱۳۷ درصد و شرکت های خارجی ۴۲۲ درصد افزایش یافته است، اما تفاوت فاحش بین شرکت های داخلی و خارجی چالش بزرگی فراه راه رشد و توسعه این کشور ایجاد کرده است زیرا اقتصاد ویتنام تا حد زیادی به سرمایه گذاری و صادرات شرکت های خارجی وابسته بوده و فعالیت شرکت های داخلی کاهش یافته است. با توجه به فرصت های شغلی و بازده تولید بیشتر، شرکت های خارجی می توانند به رشد خود ادامه دهند، اما در زمینه اینکه شرکت های مذکور تا چه حدی می توانند توسعه اقتصادی ویتنام را افزایش دهند، محدودیت هایی وجود دارد. این کشور نیاز به یک سکتور موثر خدمات دارد و با افزایش ستندردهای زندگی، ممکن است علاقه تولید کنندگان خارجی به سرمایه گذاری کاهش یافته، کارگران به فرصت های دیگری نیاز داشته باشند.

در عین حال، تصدی های دولتی کشور نیز در کارآفرینی داخلی

سهم می گیرند. اگرچه سهم آنها در مجموع فعالیت های اقتصادی و ایجاد شغل کاهش یافته است، اما بانک ها همچنان تاثیر زیادی بر اقتصاد کشور دارند زیرا قرضه های ارزان به تصدی های دولتی ارایه می کنند. بانک ها تفاوت ارایه قرضه های ارزان به این تصدی ها را با اعطای قروض پربها به سایر شرکت های داخلی، جبران می کنند. با وجود این که شرکت های خارجی دسترسی آسان به منابع تمویل مالی در خارج دارند، اما اوسط نرخ تکتانه قرضه های دراز مدت و میان مدت بانکی آن به واحد پولی دونگ ویتنام، بالاست.

اگرچه سرمایه گذاری و تجارت خارجی نقش خوبی در رشد اقتصادی دارد، اما برای رشد اقتصادی پایدار، دولت باید به شرکت ها و تولیدات داخلی نیز توجه کند. برای دستیابی به این هدف، دولت این کشور در تلاش است تا ظرفیت و توانایی سکتور خصوصی را برای ایجاد سیستمی معادل مودل خانواده ثروتمند کوریای جنوبی (Chaebol) یا مودل شبکه شرکت های مختلف جاپان (Keiretsu) افزایش دهد که این سیستم با داشتن گروه بزرگ در سکتور های گوناگون پیشبرد امور را تسهیل خواهد کرد.

این در حالی است که ویتنام همزمان در تلاش برای ارتقای ظرفیت شرکت های داخلی خود است و در عین حال دروازه های سرمایه گذاری را به روی شرکت های خارجی نیز باز کرده است و این یک امر آسانی نیست. این کشور به منظور تقویت تولید و شرکت های داخلی خود، مالیات دولتی بر شرکت ها را به طور قابل توجهی کاهش داده و وقتاً فوقتاً هزینه های اداری و هزینه های ثبت و راجستر فابریکه های مختلف صنعتی را ۵۰ درصد کاهش داده است. همچنین ویتنام با عضویت در مشارکت ترانس پاسیفیک و عقد قراردادها و معاهدات متعدد در زمینه تجارت و سرمایه گذاری توانسته است در قلمرو خود به شرکت های تولیدی داخلی و خارجی کمک نموده از آنها حمایت کند و فرصت های سرمایه گذاری را افزایش دهد. پالیسی تجاری و سرمایه گذاری خارجی ویتنام خیلی موفق است و همه سرمایه گذاران را تشویق می کند که به این کشور آمده و سرمایه گذاری کنند که این باعث شده است تا ویتنام به بزرگترین دریافت کننده حواله ها از خارج مبدل شده، در سال گذشته درین عرصه ۱۷ میلیارد دالر را دریافت کرده است که ۶ درصد تولیدات ناخالص داخلی کشور را تشکیل می دهد.



منبع: سازمان بین المللی تجارت، بانک جهانی،احصاییه ملی ویتنام



مقایسه درآمد سرانه تولیدات ناخالص داخلی کشور ویتنام با کشورهای همسایه (به دالر)
نوت: در سال ۱۹۹۰ درآمد سرانه تولیدات ناخالص داخلی ویتنام ۱۰۰ دالر به ثبت رسیده بود.
منبع: بانک جهانی

منابع: The Economist September ۴th ۲۰۲۱: Finance □ Economics

# د مالي شموليت په وده کې د اسلامي کوچنيو تمويلاتو رول

د بانکوالۍ په برخه کې د دوديزو بانکونو ترڅنګ په نړۍ او په ځانګړې توګه اسلامي هيوادونو کې اسلامي بانکوالۍ هم وده کړې ده چې اوسمهال د افغانستان په ګډون د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې اسلامي بانکونه فعال او په چټکۍ سره مخ پر وړاندې روان دي. په شلمه پېړۍ کې د دوديزو بانکونو خدماتو په کارولو سره مسلمانان د مالي خدمتونو د کارونې په برخه کې له ستونزو سره مخ شول ځکه چې دوديزو بانکونو خپلې کړنې د سود پر بنسټ ترسره کولې چې په پايله کې يې اسلامي اقتصادپوهانو د اسلامي بانکونو په اړه اقدام وکړ ترڅو له يوې خوا د نړۍ مسلمانان د اسلام په رڼا کې له بانکي خدمتونو څخه برخمن شي او له بلې خوا د اسلامي نړۍ په اقتصادي وده کې ګټور رول ولوبوي.

څېړنې ښيي چې اسلامي بانکوالي د مالي شموليت يا مالي خدمتونو ته د لاسرسي (Financial Inclusion) په برخه کې اغېزناک رول درلودلای شي چې دا بيا د بيوزلۍ د کچې په کمولو کې مرسته کولای شي. مالي خدمتونو ته لاسرسی په دې معنا دی چې د ټولنې افراد او کاروبارونه داسې ګټورو او ارزانه مالي محصولاتو او خدمتونو ته لاسرسی ولري چې د دوی اړتياوې پوره کړي. موخه يې دا ده چې د نړۍ وګړو او کاروبارونو ته، پرته له دې چې د وګړو او شرکتونو اقتصادي ارزښت په پام کې ونيول شي، ارزانه، معياري او پايه داره مالي خدمتونه وړاندې شي او مالي خدمتونه يواځې د ټولنې شتمنو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي او هغه وګړي چې اقتصاد يې ډېر ښه نه دی، هم پکې شامل شي. مالي خدمتونو ته د بېوزلو وګړو لاسرسی د عوايدو نابرابري کموي، د هغوی لپاره اقتصادي فرصتونه زياتوي او په ژوند کې يې مثبت بدلونونه رامنځته کوي. مالي خدمتونو ته د لاسرسي له امله بېوزله وګړي کولای شي د امانتونو، پورونو او سپما په برخه کې د





بانکونو له خدمتونو څخه برخمن شي او همدارنګه د پانګونې له آسانتیاوو څخه ګټه پورته کړي. د بېلګې په ډول، خلک کولای شي چې د کاروبار د پراختیا لپاره د پانګونې د آسانتیاوو خدمتونه وکاروي او یا د خپلو ماشومانو د زدکړو په برخه کې د پور له خدمتونو ګټه واخلي. سربېره پر دې، بېوزله خلک کولای شي چې د اسلامي بانکوالۍ د زکات او صدقې له خدمتونو برخمن شي او خپلې اقتصادي ستونزې پرې حل کړي. همداراز، وګړي کولای شي چې خپلې پیسې له اندېښنې پرته د خپلې عقیدې سره سم په بانک کې د سپما لپاره وساتي او په راتلونکي کې یې د پانګونې یا د خپلو اړتیاوو لپاره وکاروي او د هیواد په اقتصاد کې مثبت رول ولوبوي.

مالي خدمتونو ته نه لاسرسی ( Financial Exclusion) یعنې د بېلابېلو لاملونو له کبله د مالي خدمتونو څخه د وګړو بې برخې پاتېدل د بېوزلۍ، بېکارۍ او د پراختیا او ودې د ټیټې کچې یو له عمده عواملو ګڼل کیږي. مالي خدمتونو ته د نه لاسرسي په عواملو کې د عوایدو د کچې، سن، جنسیت، له مالي سازمانونو لرېوالی او د زدکړو د کچې سربېره عقیده هم شامله ده. یعنې ډیری خلک د اسلامي مالي خدمتونو په نشتون کې د سودي سیستم له کبله نه غواړي چې مالي خدمتونه وکاروي او په پایله کې د بانکي خدمتونو څخه بې برخې پاتې کیږي. د اسلامي همکاریو د سازمان غړو هیوادونو په تړاو د ترسره شوې یوې څېړنې پایلې ښیي چې د یاد سازمان په هغو غړو هیوادونو کې چې د اسلامي بانکوالۍ او مالي سیستم یې درلود، مالي خدمتونو ته د لاسرسي کچه د هغو غړو هیوادونو په پرتله چې د اسلامي بانکوالۍ سیستم یې نه درلود، لوړه وه. همدارنګه نورې څېړنې دا په ډاګه کوي چې اسلامي بانکوالۍ د یاد سازمان د غړو هیوادونو د سالم اقتصاد جوړولو په برخه کې د پام وړ رول درلودلی دی.

د اسلامي ټولنو هغه وګړي چې د سود له امله په بانکي سکتور کې ونډه نه اخلي، د اسلامي بانکوالۍ له لارې تشویقیږي څو له مالي خدمتونو څخه برخمن شي او په بانکونو کې حسابونه پرانیزي او پانګونې وکړي ځکه چې اسلامي بانکونه د خلکو لپاره داسې بانکي خدمتونو ته لاره هواروي چې خلک وکولای شي ترڅو خپلې پیسې د اسلامي احکامو په رڼا کې په بانکونو کې وساتي او یا یې د پانګونې لپاره په روا توګه وکاروي او حلاله ګټه ترلاسه کړي. د حلالو بانکي خدمتونو له امله پر بانکي سکتور د ولس اعتماد زیاتیږي او دې ته تشویقیږي چې خپلې پانګې او شتمنۍ په کورونو کې د ساتلو پر ځای په اسلامي بانکونو کې وساتي. په پایله کې یې د بانکي سکتور د فعالیتونو لمن نوره هم پراخیږي او پانګوال دې ته هڅیږي چې په اسلامي بانکوالۍ کې زیاته پانګونه وکړي او د بانکي سکتور د لاپیاوړتیا لپاره لاره همواره شي.

## د مالي شمولیت په وده کې د کوچنیو اسلامي تمویلاتو رول

د کوچنیو اسلامي تمویلاتو مؤسسې چې د کوچنیو اسلامي پورونو د موسسو په نامه هم یادیږي د ټولنې هغه قشرونه په نښه کوي چې د بېلابېلو لاملونو له کبله مالي خدمتونو ته لاسرسی نلري په دې لاملونو کې دیني او کلتوري عقاید هم شامل دي چې له امله یې دوی د دودیزو مالي خدماتو له کارولو څخه د سود له کبله لاس پر سر شوي دي. له شریعت سره مطابقت لرونکو خدمتونو د وړاندې کولو له لارې د کوچنیو اسلامي مالي تمویلاتو مؤسسې کولای شي مسلمانو ټولنو ته داسې مالي خدمتونه وړاندې کړي چې د هغوی له دیني عقیدې سره سمون لري. اسلامي بانکونه او مؤسسې له سود پرته د کوچنیو اسلامي تمویلاتو خدمتونه وړاندې کوي چې د شریعت د اصولو په رڼا کې ترسره کیږي او د ټیټ عاید لرونکو اشخاصو او کوچنیو متشبثینو ځانګړې اړتیاوې پوره کوي. اسلامي تمویلات د ګټې او زیان پر بنسټ د ټولنیزې هوسایینې په موخه ترسره کیږي او د دودیزو کوچنیو پورونو د بدیل په توګه پرته له سوده دود شوي دي.

اسلامي کوچني تمویلات د کوچنیو متشبثینو په پیاوړي کولو کې مهم رول لوبوي او په ځانګړې توګه په مخ پر ودې هیوادونو کې د تشبثاتو د پانګې او مالي

خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې یې ونډه د ستاینې وړ بلل شوې ده. له سود څخه پاکو پورونو، د ګټې او مفاد شریکولو او د ظرفیت لوړولو فرصتونو په برابرولو سره د کوچنیو اسلامي تمویلاتو موسسې کوچنیو متشبثینو ته دا توان ورکوي چې خپل کاروبار پیل او پراخ کړي، عاید ترلاسه کړي او په خپلو ټولنو کې خلکو ته د کار فرصتونه رامنځته کړي. همداراز، اسلامي کوچني تمویلات د شریعت د اصولو په رڼا کې د ښځو د ځواکمنتیا په برخه کې مهم رول لري. د ښځو د پام وړ ظرفیت په درک کولو سره، د کوچنیو پورونو اسلامي بنسټونه په فعاله توګه د ښځو ترمنځ مالي شمولیت او تشبث ته وده ورکوي. هغوی ته د اسلام د اصولو سره سم د مالي خدمتونو او روزنو او لارښوونو د لاسرسي په برابرولو سره، اسلامي کوچني تمویلات له ښځو سره مرسته کوي چې په اقتصادي توګه په ځان بسیا شي، د خپلو کورنیو هوساینې ته وده ورکړي، او د ټولنې په ټولیز پرمختګ کې برخه واخلي.

همدا ډول، اسلامي کوچني تمویلات د اخلاقي او ټولنیز مسؤلیت په رڼا کې ترسره کیږي. د سود (ربا) ممنوعیت او د خطر شریکول د ټولنیزې هوساینې په وده کې مرسته کوي او د دې لامل کیږي چې مالي خدمات په عادلانه او مسؤلانه ډول د ټولنې ټولو وګړو ته وړاندې شي. دا چاره په ټولنو کې باور او روښتیا ته وده ورکوي او یو دوامداره او ټول شموله مالي چاپیریال رامنځته کوي. اسلامي کوچني مالي تمویلات نه یوازې مالي سرچینو ته د خلکو لاسرسی زیاتوي بلکې د مهارتونو رامنځته کولو، د متشبثینو روزنې، او د ظرفیت لوړولو ته هم لاره هواروي. د کوچنیو اسلامي تمویلاتو برابروونکې مؤسسې د پور اخیستونکو مالي پوهاوی زیاتوي او پر بیلابیلو مهارتونو یې سمبالوي، او اسلامي ټولنو ته دا ځواک ورکوي چې دوامداره عاید ترلاسه کړي، د کار فرصتونه رامنځته کړي، او د فقر په کمولو کې خپل رول ولوبوي. د ټولنیز مسؤلیت په هڅولو او د ټولنې محرومو وګړو ته د مالي تمویلاتو ماډلونو له لارې ټولنیز یووالي او برابرۍ ته لاره هواریږي چې دا د ګډ مسؤلیت احساس رامنځته کوي او په پایله کې پور اخیستونکي د یو بل ملاتړ ته هڅول کیږي او په ټولنه کې د حساب ورکونې احساس رامنځته کیږي. دا کړنلاره ټولنیزې اړیکې پیاوړې کوي او متقابلې مرستې هڅوي، چې دا چاره د دوامدار پرمختګ لپاره اړینه ده.

**ستونزې او ننګونې**

په داسې حال کې چې د کوچنیو اسلامي تمویلاتو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي، خو په دې برخه کې ستونزې او ننګونې هم شتون لري لکه د اسلامي مالي تمویلاتو په هکله محدود پوهاوی، مقرراتي خنډونه، او د کوچنیو اسلامي تمویلاتو مؤسسو د ظرفیت لوړولو اړتیا. د دې ننګونو پر وړاندې د کوچنیو اسلامي تمویلاتو بنسټونو، پالیسي جوړوونکو، او پراختیایي سازمانونو ترمنځ همکارۍ ته اړتیا ده. د ټکنالوژۍ کارول، د مقرراتي چوکاټونو پیاوړي کول، او د مالي سواد زدکړې پروګرامونه چمتو کول به د کوچنیو اسلامي تمویلاتو له لارې د مالي شمولیت پراختیا په برخه کې فرصتونه زیات کړي.

اسلامي کوچني تمویلات د ټولنیزې-اقتصادي پراختیا او د محرومو ټولنو په پیاوړتیا کې مهمه ونډه ترسره کوي. د لاسرسي وړ، د شریعت اصولو سره سمون لرونکو او د ټولنیز مسؤلیت لرونکو مالي خدماتو په وړاندې کولو سره، اسلامي بانکونه او مؤسسې د مالي شمولیت په وده او د کوچنیو متشبثینو په ملاتړ کې مهم رول لوبوي. د پرله پسې هڅو او همکاریو په مټ، اسلامي کوچني تمویلات کولای شي د ټول شموله او انعطاف وړ اقتصادونو په جوړولو، د بې وزلۍ په کمولو، او د ټولنو لپاره د پرمختګ فرصتونو رامنځته کولو کې ګټور تمام شي.

لیکنه: سید خالد خالقیار

د افغانستان بانک د څېړونو ستر آفیسر

# دهلیز واخان و اهمیت اقتصادی آن

دهلیز واخان بدخشان که مرز میان کشور های چین، پاکستان و تاجیکستان با افغانستان را وصل نموده است، مسیر است در شمال کشور که با دره های طویل و عرض کم، یکی از دهلیز های کم نظیر اقتصادی پر اهمیت برای کشور، به حساب می آید، دهلیز اقتصادی واخان چارچوبی برای اتصال منطقه ای است که نه تنها به نفع چین و افغانستان خواهد بود، بلکه تأثیر مثبتی بر ایران و کشور های آسیای مرکزی و منطقه خواهد داشت. تقویت پیوندهای جغرافیایی با بهبود سیستم حمل‌ونقل جاده‌ای، ریلی و هوایی با تبادلات مکرر و رایگان رشد و تماس مردم با مردم، افزایش درک از طریق دانش و فرهنگ ، فعالیت حجم بالاتر جریان تجارت و داد و ستد، تولید و جابجایی انرژی برای داشتن کسب و کارهای موثرتر و افزایش همکاری با مدل



برد-برد منجر به ایجاد منطقه ای تجاری بسا مهم، هماهنگی و توسعه خواهد شد.

در صورت تحقق اهداف این بندر تجارتی، این پروژه از طریق ایجاد یک مسیر اقتصادی و صنعتی، همکاری و همبستگی بین دو کشور را تقویت می‌کندکه شامل انتقال انرژی، ایجاد زیرساخت‌های حمل و نقل، توسعه بنادر، پارک‌های صنعتی و پروژه های دیگر است.

این مسیر میتواند فرصت‌های بزرگی را برای توسعه اقتصادی وفرصت های کاری ایجاد و زیرساخت‌های حمل و نقل را بهبود و توسعه مناطق عقب مانده و بی‌سرمایه‌گذاری در کشور را تسهیل کند. همچنین این امکان را میتواند مساعد نماید تا به عنوان یک مرکز تجاری و ترانزیتی در منطقه زمینه خدمات و کار را افزایش دهد.

این مسیر برای چین نیز به عنوان یک قسمت از برنامه "راه ابریشم اقتصادی" که جهت توسعه وصلت‌های اقتصادی با مناطق دیگر جهان است، بسیار اهمیت دارد. این پروژه به چین این امکان را می‌دهد که به مناطق خاورمیانه، آفریقا و اروپا دسترسی بهتری داشته باشد و از طریق افغانستان، بندر چابهار ایران به بازارهای جدید دسترسی پیدا نموده و امکان استفاده از مسیرهای حمل و نقل کوتاه‌تر و اقتصادی‌تر به منظور صادرات و واردات را فراهم کند.

این دهلیز به طور کلی از منظر اقتصادی برای هر دو کشور اهمیت زیادی دارد و می‌تواند در توسعه اقتصادی، کار آفرینی، توسعه صنایع، بهبود زیرساخت‌های حمل و نقل، افزایش تجارت و همکاری بین دو کشور موثر باشد ، هردو کشور امکان همکاری در زمینه فناوری، تحقیق و توسعه و تبادل دانش را نیز فراهم می‌کند.

این در حالیست که قبلاً چین از دهلیز اقتصادی چین پاکستان استفاده کرده و این مسیر اکنون بنابر هزینه های بلند اقتصادی چندان مطلوبیت برای چین در تناسب به دهلیز واخان بدخشان ندارد، از اینرو موقعیت و مسیر کوتاه واخان، فرصت اقتصادی را به همه کشور های ذیدخل تجاری با چین، به ارمغان خواهد آورد، طوریکه این مسیر کوهستانی ۱۰x۲۰۰ مایلی، سین کیانگ کشور چین را به ولایت بدخشان افغانستان وصل می نماید، همچنین بخشی از جاده تاریخی ابریشم باستانی است. بناً اقدام مهم چین برای همکاری با افغانستان در باز کردن دهلیز استراتژیک واخان برای افزایش تجارت منطقه‌ای تاثیر گذار خواهد بود.

با توجه به معلومات حاصله، چین و افغانستان در مراحل بعدی متوصل به ایجاد مسیر خط آهن خواهد شد که با ایجاد خط آهن، این مسیر یکی از پر اهمیت ترین بنادر اقتصادی در منطقه خواهد بود .

در حال حاضر مجموع تجارت چین با کشورهای عربی حدوداً ۳۳۲ میلیارد دالر است که عربستان بیش از یک چهارم آن را به خود اختصاص داده است.

بر اساس اطلاعات منتشر شده توسط مجمع همکاری چین و کشورهای عربی، در توییتر، عربستان سعودی بیش از یک چهارم تجارت کشورهای عربی با چین را به خود اختصاص داده و بزرگترین شریک تجاری پکن در خاورمیانه و شمال آفریقاست. در میان کشورهای خاورمیانه، ترکیه با ۳۴.۲ میلیارد دالر در جایگاه چهارم و سلطان نشین عمان با حجم مبادلات تجاری ۳۲.۱ میلیارد دالری با چین در رتبه پنجم قرار گرفته است.

با توجه به حجم بالای صادرات چین به کشور های عربی و آسیا میانه، افغانستان

نزدیک ترین مسیر تزانزیتی برای صادرات کالا و برعکس واردات مواد مورد نیاز کشور چین میباشد. با توجه به اینکه افغانستان کشور مصرفی بوده و بیشترین واردات را از کشور های همسایه خود دارد، مسیر واخان بدخشان میتواند در تسهیل حجم واردات و کم هزینه بودن اموال وارداتی نیز نقش مثبت ایفا نماید، هرچندی که مسیر زمینی ترانزیتی تا اکنون میان چین و افغانستان بگونه مستقیم نبوده است اما بر اساس اطلاعات گمرکی چین، در دسامبر سال ۲۰۲۲ چین به ارزش ۹.۰۹ میلیون دالر از افغانستان اموال وارد کرده و ۵۹ میلیون دالر نیز از این کشور وارد کرده است که در نتیجه تعادل تجاری مثبت برای چین ۴۹.۹ میلیون دالر بوده است

در نتیجه روی تأثیرات و اهمیت دهلیز واخان برای چین و افغانستان میتواند گفت که این مسیر ترانزیتی وزنده بین چین و خاورمیانه و اروپا را به خوبی ترکیب می کند و می‌تواند جایگزینی جالب برای مسیرهای ترانزیتی موجود شود و به‌عنوان یک مسیر ترانزیتی کلیدی، امکان اتصال چین به بازارهای خاورمیانه، اروپا و مناطق دیگر را فراهم کند. این مسیر کوتاه تر و سریعتر از مسیرهای دریایی معمول میان چین و اروپا است و می‌تواند هزینه‌ها و زمان ترانزیت را کاهش دهد.استفاده از دهلیز واخان به عنوان یک مسیر ترانزیتی جایگزین، به چین امکان می‌دهد تا مستقلیت و انعطاف بیشتری در انتخاب مسیرهای ترانزیتی خود داشته باشد. این امر می تواند از لحاظ امنیتی و اقتصادی برای چین بسیار حائز اهمیت باشد و از وابستگی به مسیرهای تک مسیره موجود کاسته و ریسک های مربوط به آن را کاهش دهد. از طرفی هم دهلیز واخان از لحاظ جغرافیایی از مناطق عقب مانده افغانستان عبور می کند که به توسعه و کار آفرینی در این مناطق کمک می کند. در صورتی که چین بتواند با سرمایه گذاری در زیرساخت‌ها و توسعه اقتصادی در این مناطق، از استفاده از دهلیز واخان بهره‌برداری کند، می تواند به کاهش نابرابری‌های اقتصادی و اجتماعی در مناطق عقب‌مانده کمک کند .

این مسیر میتواند ریسک‌های امنیتی مرتبط با مسیرهای دریایی را کاهش داده و کوتاه تر و مستقیم‌تر از مسیرهای دریایی است که ممکن است به تهدیدات امنیتی مرتبط با دزدی منجر شود .

با توجه به این موارد، می‌توان گفت که دهلیز واخان برای چین اهمیت استراتیژیک قابل توجهی دارد. اما برای توسعه و بهره‌برداری از این مسیر، نیاز به سرمایه گذاری های زیادی در زیرساخت‌های لازم و همچنین حل مسائل مرتبط وجود دارد .

در کنار آن همکاری با کشورهای دیگر مانند افغانستان و تاجیکستان، افغانستان و پاکستان و افغانستان و ایران نیز ضروری است تا از این مسیر بهره برداری کامل صورت گرفته و افغانستان نقش مثبت خود را در رشد اقتصاد جهانی به اثبات برساند.

**نویسنده: محمد کاظم سروری**

**مدیر ارتباط رسانه ای، د افغانستان بانک**



# ګرانو هیوادوالو!

## د خپلو بچیانو د راتلونکي لپاره مو سپما وکړئ.
## د نن سپما، د سبا هوساینه

# اقتصادي خبرونه

**افغانستان در ماه گذشته بیش از ۱۶۶ میلیون دالر صادرات داشت**

اداره ملی احصاییه و معلومات گفته است که مجموعه ارزش صادرات کشور در ماه قوس، ۱۶۶.۵ میلیون دالر بوده است . دفتر مطبوعاتی این اداره در خبرنامه یی نوشته است: براساس جمع‌آوری و تحلیل ارقام مربوط به صادرات و واردات کشور در ماه قوس، مجموع ارزش صادرات به ۱۶۶.۵ میلیون و مجموع ارزش واردات ۷۹۱ میلیون دالر بوده است. در خبرنامه تذکررفته است: در میزان ارزش صادرات و واردات کشور در ماه قوس سال روان نسبت به ماه قوس سال گذشته افزایش آمده است چون؛ در ماه قوس سال گذشته ارزش صادرات به ۱۵۴ میلیون دالر و ارزش واردات نیز به ۷۳۵.۸ میلیون دالر می‌رسید. بنابراین، امسال در ماه قوس ۱۲.۵ میلیون دالر در ارزش صادرات و ۵۵.۲ میلیون دالر در ارزش واردات کشور افزایش آمده است. در خبرنامه آمده است که در ماه گذشته امسال بیش ترین صادرات به پاکستان، هندوستان و امارات متحده عربی صورت گرفت و هم‌چنان بیش‌ترین واردات از کشورهای ایران، پاکستان و چین بوده است.

**تېره اونۍ د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۸۷ زره ټنه انتقالات شوي**

په تېره یوه اونۍ کې د اوسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۸۷ زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د اوسپنې پټلۍ اداره وايي، چې تېره اونۍ د حيرتان، آقينې او تورغونډۍ اوسپنې پټليو له لارې ۸۷ زره ۲۶۶ متريک ټنه توکي لېږدول شوي دي. په يادو توکو کې ۱۰۳۹ ټنه توکي صادر شوي. د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ملي اداره وايي دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختيا او ښه والي لپاره هڅه کوي او موخه يې دا ده چې د هېواد سوداګرو ته ټول اړين امکانات برابر کړي او معياري چوپړتياوې وړاندې کړي.

**چارواکي: تېر کال د هوا له لارې د ۱۵۰ میلیون ډالرو صادرات شوي دي**

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، هڅه کوي چې د هوايي دهليزونو له لارې د صاداراتو کچه لا زياته کړي. د دغه وزارت وياند وايي، د تېر يوه کال په ترڅ کې د هوايي دهليزونو له لارې له نورو هېوادونو سره د څه باندې ۲۹۰ ميليون ډالرو په ارزښت راکړه ورکړه شوې چې ۱۵۰ ميليون ډالره يې صادرات دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وياند آخندزاده عبدالسلام جواد وويل: »اوس په دې هڅه کې يو چې له نورو هېوادونو سره هم د هوايي دهليزونو له لارې ونښلېږو. اوس موږ له هند، چين او متحده عربي اماراتو د هوايي دهليزونو له لارې اړيکې لرو. «هاخوا، د سوداګرۍ او پانګونې خونه

وايي، د نړيوالو هوايي شرکتونو د فعاليت بيا پيلېدل د هوايي دهليزونو له لارې د صاداراتو په زياتېدو کې مهم رول لوبوي او د جلغوزې، تازه ميوې او وچې ميوې په ګډون بيلابيل توکي د هوايي دهليزونو له لارې صادريږي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مديره پلاوي غړي خان جان الکوزي طلوع نيوز ته وويل: »موږ تېر کې له ترکش، اينډيا ايرلاينز، کام اير او آريانا افغان سره هوکړې درلودې چې اوس دا سيستم له منځه تللی او اوس خپله سوداګرو ته پيسې ورکوو او هند او چين ته صادرات لري.«ځينې‌سوداګر بيا وايي، د هوايي دهليزونو له لارې د صادراتو زياتېدل به د هېواد د عوايدو د زياتېدو لامل هم شي او هغوی ته بايد سبسايډي ورکړل شي څو په ارزانه بيه سوداګريز توکي صادر کړي. سوداګر محبوب الله محمدي په دې اړه و ويل: »حکومت دې د هوايي دهليزونو په برخه کې د آسانتياوو رامنځته کولو لپاره په ځانګړې توګه د بېلابېلو کورنيو او بهرنيو هوايي شرکتونو له لارې د الوتنو زياتوالي په موخه مالي ملاتړ زيات کړي، که هغه نړيوال، د ډونرانو يا د حکومت لخوا وي. ترڅو په مرسته يې هوايي دهليزونه لا پياوړي شي. «د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۳ زيږديز کال کې د افغانستان د صادارتي توکو ارزښت نږدې ۲ ميلیارده ډالرو ته رسېده.

**کارخانه قند بغلان پس از ۱۳ سال به فعاليت آغاز کرد**

مسئولان کارخانه قند بغلان از فعاليت دوباره آن پس از ۱۳ سال توقف خبر داده اند. عبدالحميد آخند زاده؛ مدير کل اداره شرکت های دولتی در مراسم از سرگيری کار اين کارخانه گفته است که دولت تلاش دارد با ساخت کارخانه های بزرگ توليدی و توسعه محصولات داخلی، افغانستان را به سوی توان‌مندسازی اقتصادی سوق دهند. گفته می‌شود که قرار است در اين کارخانه در يک شبانه روز ۱۰۰ تن قند توليد و برای ۱۰۵۰ تن زمينه کار فراهم شود. کارخانه قند بغلان در ۱۳۱۹ خورشيدی از سوی سرمايه‌داران داخلی با پشتيبانی فنی آلمان به فعاليت آغاز کرد؛ اما فعاليت اين کارخانه به دليل جنگ های داخلی، غصب زمين‌های مربوط به آن از سوی زورمندان و نبود مواد خام، متوقف شده بود.


منابع:

۱- رياست روز نامه های دولتی، ۴ رجب المرجب ۱۴۴۵ (۱۴۰۲/۱۰/۲۶)

۲- سپوږمی راډیو، ۱۴۴۵ رجب المرجب ۸ (۱۴۰۲/۱۰/۳۰)

۳- طلوع نيوز، ۱۴۴۵ رجب المرجب ۱۷ (۱۴۰۲/۱۱/۰۹)

۴- خبرگزاری افق، ۱۶ رجب المرجب ۱۴۴۵ (۱۴۰۲/۱۱/۰۸)

# افغانۍ د نړۍ غوره پولي واحدونو په قطار کې

**لیکونکی: انور الله حیات، د افغانستان بانک د نشراتو ارشد مدیر**

انفلاسیون د نړۍ د اقتصادونو لپاره دوامداره اندیښنه ده او د کنټرولولو په برخه کې یې د مرکزي بانکونو رول خورا مهم دی. مرکزي بانکونه د نرخونو د ثبات او پر بانکي او مالي سیستم د خلکو د باور په ساتلو کې مهم رول لوبوي. که مرکزي بانکونه په مؤثره توګه د انفلاسیون په کنټرول کې پاتې راشي، ښايي ډیرې بدې پایلې ولري، ځکه چې خلک به پر مرکزي بانکونو خپل باور له لاسه ورکړي او د مالي سیستم ثبات به له خطر سره مخ شي. د افغانستان بانک د هیواد




د مرکزي بانک په توګه د کورنیو بیو ثبات تأمینولو او ساتلو، د یو پیاوړي مالي سیستم رامنځته کولو او د انفلاسیون د کنټرول لپاره دوامداره هلې ځلې کوي او د خپلو معقولو پولي سیاستونو له لارې د انفلاسیون په کنټرول او د افغانۍ د ارزښت په ساتلو کې یې مهم رول لوبولای دی. د افغانستان بانک د اغیزناکو پولي سیاستونو او مؤثرو ګامونو په اخیستلو سره توانیدلای دی چې د انفلاسیون شدت را کم کړي او د افغانۍ ثبات تأمین کړي. دا چاره نه یوازې دا چې پر کورني اقتصاد د باور د زیاتوالي لامل شوې ده بلکه د افغانۍ غوره ارزښت د نړیوالو بنسټونو لخوا هم ستایل شوی دی. دلته د افغانۍ د ارزښت په تړاو د افغانستان بانک لخوا اخیستل شوو هغو ګامونو او عواملو باندي رڼا اچول شوې چې له امله یې افغانۍ نن د نړۍ د غوره پولي واحدونو په قطار کې سیالي کوي.

**که مرکزي بانکونه د انفلاسیون په کابو کولو کې پاتې راشي، خلک به پر مرکزي بانکونو خپل باور له لاسه ورکړي او د مالي سیستم ثبات به له خطر سره مخ شي.**

**د شدید انفلاسیون په لور د افغانۍ د چټک مزل مخه نیول**

په تېرو څه کم دریو کلونو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې د پام وړ نوسانات رامنځته شوي دي. دا نوسانات په ځانګړي ډول د ۲۰۲۱ کال په وروستی او د ۲۰۲۲ کال په لومړۍ ربعو کې ترسترګو شوي دي کله چې په هیواد کې له سیاسي بدلونونو څخه وروسته اقتصاد له یو ناڅرګند حالت سره مخ او د هېواد مالي او بانکي نظام د لویو ستونزو سره لاس و ګریوان شو چې په پایله کې یې د ملیونونو ډالرو بهرنۍ مرستې وځنډېدې، پر افغانستان بې شمیره نړیوال بندیزونه ولګېدل او د مهمو پروژو کارونه په ټپه ودریدل. دا بدلونونه د دې لامل شول چې د هېواد اقتصاد د مخ پر زیاتیدونکي انفلاسیون له طوفان سره مخ شي، د توکو بیې لوړې شوې او په زرهاوو مشتریانو د نغدو پیسو ایستلو لپاره بانکونو ته مخه کړه. دې ټولو عواملو د امریکایي ډالرو په مقابل کې د افغانۍ پر ارزښت سخته منفي اغیزه وکړه چې په پایله کې یې د ۲۰۲۱ کال د اګست او ۲۰۲۲ کال تر جنورۍ پورې د افغانۍ د تبادلې نرخ له ۸۱ -۸۲ څخه ۱۰۴ ته ورسید.




سرچینه: د افغانستان بانک د بازار عملیاتو آمریت

د افغانستان بانک د انفلاسیون د لوړې کچې په لور د افغانۍ د چټک سفر د مخنیوي لپاره له هیڅ ډول هلو ځلو څخه دریغ ونکړ او بانک د انفلاسیون د کنټرول لپاره یو لړ مؤثرې او په احتیاط سره وضع شوې پولي پالیسی او ستراتیژۍ پلې کړي چې په نتیجه کې یې د ۲۰۲۳ کال په جنورۍ کې د افغانۍ د تبادلې نرخ د ښه والي په لور وخوځید او د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ میاشتې د ۱۰۴.۵ په پرتله ۸۹.۴۰ ته ورسید. د افغانۍ ارزښت په چټکۍ سره د ښه والي په لور دوام پیدا کړ او مثبت بهیر یې ادامه درلوده تر دې چې د ۲۰۲۳ په سپټمبر کې د افغانۍ د تبادلې نرخ ۷۸.۷ ثبت شو. د افغانۍ په ارزښت کې دا بې ساری بدلون د دې لامل شو چې افغانۍ د سیمې بیلابیل پولي واحدونه وروسته پریږدي او د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت آن د هندي

روپۍ (۸۳-۸۴) څخه هم ښه شو.

**د افغانستان بانک د اغیزناکو پولي سیاستونو په مټ توانیدلای دی چې د انفلاسیون شدت را کم کړي او د افغانۍ ثبات تأمین کړي چې دا چاره له نړیوالو بنسټونو لخوا هم ستایل شوې.**

### د نړۍ غوره پولي واحد

نړیوالو سازمانونو او بنسټونو د افغانۍ د ارزښت ساتنې په برخه کې د افغانستان بانک د اقداماتو ستاینه کړې ده. د افغانستان بانک لخوا د بانکي موضوعاتو د ښه مدیریت او معقولو پولي پالیسیو پلي کول د افغانۍ ثبات په ساتلو کې مهم رول لوبولای دی او افغانۍ اوس په نړیواله کچه د یو باثباته پولي واحد په توګه منل شوې ده. د بېلګې په توګه د نړیوال بانک په راپورونو کې راغلي چې په افغانستان کې د انفلاسیون کچه راټیټه شوې ده، د افغانیو ارزښت د اسعارو پر وړاندې ښه شوی او د کورنیو بیو ثبات په ښه توګه مدیریت شوی دی. سربېره پر دې، افغانۍ د ۲۰۲۳ کال په درېیمه ربع کې د اجراات له پلوه د بلومبرګ لخوا د نړۍ تر ټولو غوره پولي واحد په توګه وپېژندل شوه. همداراز، د بلومبرګ راپور په ګوته کوي چې د افغانۍ ارزښت ۱۴٪ زیاتوالی موندلی دی چې په نړیوال لست کې یې د ارزښت موندنې له پلوه درېیم ځای خپل کړی دی. د بلومبرګ مخکني راپور له مخې افغانۍ د نړۍ د نهو غوره پولي واحدونو په منځ کې دوهم ځای درلود.

### د افغانۍ د ارزښت په ساتلو کې د افغانستان بانک رول

د افغانۍ د غوره ارزښت په برخه کې د نورو عواملو تر څنګ د افغانستان بانک د رهبرۍ د مؤثرو پولي پالیسیو، ستراتیژیو او اغیزناکو اقداماتو مهم رول لوبولای دی چې دې چارې پر بانکي سکتور د خلکو باور بیرته ترلاسه کړی، د انفلاسیون له کنټرول څخه د وتلو مخنیوی یې کړی او د ډالرو پر وړاندې یې د افغانۍ له ارزښت څخه په غوره توګه ساتنه کړې ده. د افغانستان بانک لخوا په ترسره شوو ګامونو کې په موثره توګه د پولي سیاستونو پلي کول، د مقرراتي چوکاټونو پیاوړي کول او په مالي معاملاتو کې روڼتیا ډاډمنول شامل دي. د دې ستراتیژیو یوه برخه د امریکایي ډالرو د قاچاق مخه نیول، د غیرقانوني صرافانو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فعالیت مخنیوی کول، په کورنیو راکړو ورکړو کې د اسعارو کاروَنه محدودول، آنلاین غیرقانوني مالي فعالیتونه منع کول، او د هېواد په کچه په سوداګرۍ او مالي معاملاتو کې د افغانۍ د زیاتې کاروَنې په هکله د پوهاوي لوړول وو.

### د ډالرو قاچاق سره مبارزه

له هېواد څخه د ډالرو ایستل د افغانۍ پر ارزښت منفي اغیزه پرېږدي او د انفلاسیون د زیاتوالي لامل کیږي چې په پایله کې یې د توکو بیې لوړیږي او هېواد د اقتصادي ستونزو سره مخ کوي. د دې لپاره چې د هېواد څخه د ډالرو د غیرقانوني وتلو مخه ونیسي، د افغانستان بانک د ډالرو د قاچاق د ستونزې د حل لپاره یوه هراړخیزه ستراتیژي پلې کړه او د دې ډول غیر قانوني فعالیتونو د مخنیوي لپاره یې جدي کار وکړ. د هېواد پر اقتصاد او په ځانګړې توګه د افغانۍ پر ارزښت د ډالرو د قاچاق د ناوړه اغیزو په درک کولو سره، د افغانستان بانک د بیلابیلو ذینفعانو سره د نږدې همکارۍ او همغږۍ لپاره اغیزناک ګامونه پورته کړل د ډالرو له قاچاق سره په اغیزمنه توګه د مبارزې لپاره یې څو اړخیزه کړنلاره په کار واچوله او د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو سره یې پیاوړې اړیکې تأمین کړې. د افغانستان بانک د دې اړیکو په رڼا کې صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته اړینې لارښوونې، روزنیز پروګرامونه او د هغوی د قانوني فعالیتونو د ملاتړ اړانې جوړې

کړې ترڅو د افغانستان بانک د کړنلارو، مقرراتو او قوانینو اطاعت ډاډمن کړي او د یاد سکتور د غیرقانوني فعالیتونو مخه ونیسي. د معلوماتو د تبادلې، ستونزو او اندیښنو ته د رسیدنې کولو او د ډالرو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د همکارۍ زیاتولو لپاره د یاد سکتور له استازو سره منظمې غونډې جوړې شوې.

سربیره پردې، د افغانستان بانک د قانون د تنفیذ ادارو، ګمرکونو او د سرحدونو چارواکو سره په فعاله توګه په اړیکه کې دی، ترڅو د اسعارو د لېږدولو اړوند مقرراتو او قوانینو پلي کول ډاډمن کړي. د افغانستان بانک د خپلو اړوندو څانګو له لارې د ډالرو په قاچاق کې ښکیلو اشخاصو یا ډلو د پیژندلو او نیولو لپاره د استخباراتي معلوماتو شریکولو څخه ډاډ ترلاسه کړ. د افغانستان بانک اړوندو چارواکو ته اړینې سرچینې او د ملاتړ زمینه برابره کړې ده ترڅو په مؤثره توګه د مجرمینو تحقیق او تعقیب ترسره کړي. پر دې سربېره، د افغانستان بانک د ډالرو د قاچاق د کنټرول په موخه د قوي چوکاټونو د رامنځته کولو لپاره سخت مقرراتي اقدامات پلي کړي. همداراز، د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره یې د راپور ورکولو غوره شرایط معرفي کړي ترڅو په مالي معاملو کې روڼتیا یقیني او د شکمنو فعالیتونو په ګوته کول آسانه کړي. له دې سره سره یې منظم تفتیشونه او ارزونې ترسره کړې دي ترڅو له اړوندو مقرراتو او قوانینو سره د مطابقت څخه ډاډ ترلاسه کړي او په سیستم کې احتمالي نیمګړتیاوې او ضعفونه په ګوته کړي.

**د اسعارو له کارولو څخه مخنیوی کول**

د افغانستان بانک په ورځنیو راکړو ورکړو کې د افغانۍ د زیاتې کارَونې په موخه د اسعارو، او په ځانګړې توګه د ګاونډیو هېوادونو د پولي واحدونو پر کارولو محدودیتونه وضع کړل. د دې محدودیتونو په اغیزمنه توګه د پلي کولو لپاره، د افغانستان

**د ۲۰۲۲ په جنورۍ کې د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ ۱۰۴.۵ ته ورسید خو د افغانستان بانک په نه ستړېدونکو هلو ځلو افغانۍ د هندي روپۍ په شمول د سیمې بیلابیل پولي واحدونه وروسته پرېښودل او د ۲۰۲۳ په سپټمبر کې یې د تبادلې نرخ ۷۸.۷ ثبت شو.**

په بیلابیلو ولایتونو کې د قانون پلي کوونکو ادارو په ګډون د اړوندو نهادونو په همکارۍ د عامه پوهاوي پروګرامونه جوړ او پلي کړل. په دې پروګرامونو کې د سیمینارونو او غونډو سربیره د معلوماتي پوسټرونو خپرول، د ټولنیزو رسنیو کمپاینونه، او نور ارتباطي چینلونه شامل وو ترڅو خلکو ته په ملي پولي واحد د راکړو ورکړو د ترسره کولو د اهمیت په هکله پوهاوی ورکړي. په معاملاتو کې د افغانۍ د کارولو د ګټو او د اسعارو کارولو زیانونو او قانوني اقداماتو په هکله د پوهاوي په لوړولو سره د افغانستان بانک هڅه وکړه چې په ورځنیو مالي معاملو کې د افغانۍ کارول ډېر کړي. دا هڅې د اسعارو د پراخې کارونې د مخنیوي او د کورني پولي سیستم د ثبات په وده کې خورا مهمې وې.

**د غیر مجوزو صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو فعالیتونه محدودول**

د افغانستان بانک د پیسو وینځلو، د لویو جرمونو تمویلولو او د جرمونو څخه ترلاسه شوو عوایدو پر وړاندې د فعالې مبارزې له لارې د مالي سیستم سلامتیا او لا زیاتې پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکوي. د غیربانکي مالي مؤسسو سکتور د افغانستان په مالي نظام کې خورا مهم رول لوبوي او په هېواد کې دننه او بهر د پیسو د لیږد رالیږد په برخه کې ګټوره ونډه لري خو له دې سره سره، که چیرې د یاد سکتور مجوزې کړنې تر څارنې لاندې و

نه نیول شي او غیرمجوزې غیر بانکي ادارې په ګوته او فعالیتونه یې محدود نه شي نو د پیسو وینځلو، د لویو جرمونو تمویلولو او د جرمونو څخه ترلاسه شوو عوایدو په تړاو د پام وړ خطر رامنځته کولای شي. دا چاره نه یوازې دا چې د هېواد په کچه او پر نړیوال سټیج د افغانستان د مالي سکتور اعتبار ته د زیان رسولو لامل ګرځېدلای شي بلکه مشتریان د درغلۍ له خطر سره هم مخ کولای شي. د دې ستونزې د حل لپاره، د افغانستان بانک د جواز لرونکو غیربانکي مالي موسسو په تړاو د څارنو ترسره کولو، مقرراتو ښه کولو، او د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیتونو تنظیمولو لپاره مؤثر میکانیزمونه رامنځته کړي. په یاد سکتور کې د غیر قانوني کړنو د کشف او مخنیوي په موخه یوه ګډه کمېټه جوړه شوه او پر جواز لرونکو او غیر مجوزو ادارو جریمې وضع شوې. د غیر معیاري نهادونو د جوازونو په لغوه کولو، د غیرقانوني او غیر مجوزو نهادونو په ګوته کولو او د جواز ورکولو د نوي میکانیزم په معرفي کولو سره، بانک ډاډ ترلاسه کړ چې په بازار کې قانوني او پر شرایطو برابرې ادارې فعالیت کوي ترڅو پر مالي سیستم د مشتریانو باور زیات او د سیستم اعتبار او سلامتیا ډاډمنه کړي.

**مرستې او د بهر میشتو افغانانو لخوا د نغدو پیسو حوالې**

د ملګرو ملتونو لخوا بشري مرستې او په بهر کې د میشتو افغان کډوالو لخوا خپلو کورنیو ته رااستول شوو پیسو هم د افغانۍ د ارزښت په ساتلو کې مهم رول لوبولای دی. هېواد ته دننه د پیسو دې جریان د اقتصاد د ثبات په برخه کې خورا اړینه ونډه اخیستې ده او د هغو اقتصادي ننګونو په کمولو کې یې مرسته کړې چې افغانستان ورسره مخ دی. د نغدو پیسو، خوراکي او طبي توکو په بڼه بشردوستانه مرستو په مستقیم ډول د بیوزلو لاسنیوی کړی او د ټولنیزې هوساینې په وده او د اقتصادي ناورینونو د اغیزو په کمولو کې یې مرسته کړې. سربیره پر دې، د افغان کډوالو پیسو د ډیرو کورنیو لپاره د ژوند لومړیو آسانتیاوو په برابرولو کې خورا مهم رول ترسره کړی او په اقتصاد کې یې د اسعارو تزریق ته لاره هواره کړې ده. دې پیسو له افغان کورنیو سره مالي مرسته کړې او د ژوند د معیارونو په لوړولو او په هېواد کې یې د داخلي لګښت په هڅولو کې ښه رول لوبولای دی. په هېواد کې د اسعارو له موجودیت څخه ډاډ ترلاسه کولو، بشردوستانه مرستو او د بهر میشتو افغانانو لخوا رااستول شوو پیسو د افغانۍ د ثبات او ارزښت په ساتلو او د افغانستان د اقتصادي پیاوړتیا په برخه کې مرسته کړې ده.

**غوره امنیتي وضعیت**

د تېرو کلونو په پرتله په ۲۰۲۳ کال کې د افغانستان په امنیتي وضعیت کې د پام وړ ښه والی راغلی او د ګاونډیو له هېوادونو سره یې د صادراتو او سوداګرۍ زیاتوالي ته لاره هواره کړې ده. د امنیتي خطرونو په کمیدو سره، افغان سوداګرو وکولای شول چې خپلې سوداګریزې کړنې پراخه او د تولید ظرفیت لوړ کړي چې دا چاره د توکو په صادراتو کې د ودې لامل شوه. سربیره پر دې، د امنیت غوره چاپېریال حکومت د هغو زیربنایي پروژو پیل ته وهڅاوو چې د اقتصادي ودې او ثبات په برخه کې یې ونډه درلوده او د کار فرصتونو لپاره یې لاره هواره کړه. د ټولګټو وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر کال کې په ټول هېواد کې د ۴۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۲۵ پروژې بشپړې او د ۲ میلیارده افغانیو په ارزښت ۹۰ پروژې پیل شوې دي. ښه امنیتي وضعیت د پانګوالو د باور ترلاسه کولو او د اقتصادي فعالیتونو لپاره د یو ډیر مناسب چاپېریال په رامنځته کولو کې هم مرسته کړې ده چې دا چاره د افغانۍ پر ارزښت د مثبتې اغیزې پرېښودلو لامل شوه.

**د انفلاسیون کابو کول**

د افغانستان بانک د انفلاسیون د څارلو او اداره کولو لپاره په ډېر احتیاط سره جوړې شوې پولي پالیسی پلې کړې ترڅو پرې نږدې چې انفلاسیون له کابو څخه بهر شي چې په دې کې د نغدینګۍ مؤثر مدیریت او د لیلام ستراتیژۍ شاملې وې ترڅو د توکو مخ پر زیاتیدونکو بیو مخه ونیسي او په اقتصاد کې ثبات ټینګ کړي. سربیره پر دې، د افغانستان بانک د نغدینګۍ د ستراتیژۍ په رڼا کې له بانکونو څخه د امانتونو پر ایستلو اوونیز او میاشتنی محدودیت پلي کړ چې د وضعیت په ښه کیدو په محدودیتونو کې نرموالی راغی او په پام کې ده چې په راتلونکي کې به په کامله توګه ختم شي. د یادولو وړ ده چې اسعاري زیرمو ته د محدود لاسرسي باوجود، د افغانستان بانک په بریالیتوب سره د هیواد د اسعارو اړتیاوې پوره کړې دي.

**په ټوله کې**

> **د افغانۍ د غوره ارزښت په برخه کې د افغانستان بانک د مشرتابه د مؤثرو پولي پالیسیو، ستراتیژیو او د ملسکي کارکوونکو هلو ځلو مهم رول لوبولای دی.**

د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر تر میاشتې افغانۍ ډېرې هسکې ژورې تجربه کړې خو د ستونزمنو شرایطو په شتون کې هم د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې د پام وړ زیاتوالی راغی. په یاده موده کې د افغانستان بانک د انفلاسیون په کابو کولو کې مهم رول ترسره کړ او د افغانۍ ثبات او ارزښت یې په غوره توګه وساته چې دا چاره د نړیوالو لخوا هم وستایل شوه او د انفلاسیون د کنترول او د بانکي سیستم ثبات لپاره د افغانستان بانک لخوا اخیستل شوي ګامونه مثبت او ګټور وارزول شول. سربیره پر دې، غوره امنیتي وضعیت، د صادراتو زیاتوالي، ډالرو قاچاق، د غیرمجوزو صرافیو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیتونو او په راکړو ورکړو کې د اسعارو کارولو سره مبارزه، نړیوالې مرستې او د بهر میشتو افغانانو لخوا رااستول شوي نقدي وجوه هغه عوامل دي چې د افغانۍ په ارزښت یې مثبتې اغیزې پرې ایښې دي. که څه هم په دې برخه کې ننګونې اوس هم شتون لري، خو د افغانستان مرکزي بانک د مالي ثبات ساتلو او د انفلاسیون کنټرول، د بانکي سیستم پیاوړتیا او د ملت د سوکالۍ او هوساینې په موخه په دوامداره توګه د اغیزناکو اقداماتو پلي کولو ته ژمن دی او کلک هوډ لري ترڅو د هېواد په اقتصادي وده کې خپله ګټوره ونډه په ښه توګه ترسره کړي.



# هموطنان عزیز!

## برای آینده فرزندانتان پس انداز کنید.
## پس انداز امروز، آسایش فردا

## Fungibility of Foreign Aid

Since the goal of foreign aid is to equip the nation with its basic social and economic infrastructure, it should, in theory, benefit the recipient economy. The efficacy of aid on economic growth varies amongst beneficiaries, as evidenced by the research that is currently available, and not all recipients of aid attain the intended goal. The explanation for this is that aid funds are fungible, meaning that they rarely end up where they are intended to be.

Foreign assistance proponents contend that for the hypothesized causal connection between help and economic growth to be successful, all foreign aid should be fully and immediately represented in public spending and the government budget (Wright and Winters 2010). In other words, all of the aid is used in non-fungible ways. But in practice, it is not the case. The amount of aid that is regularly disbursed in fungible ways varies depending on the governments and nations that receive it.

As an illustration, several nations primarily utilized foreign help as intended by the agencies and donor nations, investing in public health, education, and poverty alleviation. Gupta (1993) discovered minimal proof of foreign aid's fungible use across India's development spending in the 1970s and 1980s. Additionally, Pack and Pack (1990) discovered that foreign aid increased Indonesia's total government spending between 1966 and 1986. The majority of the aid was used to fund the nation's social and economic infrastructure.

## Conclusion

The article briefly described efficacy of foreign aid, including its effects on recipient and donor nations, and if foreign aid meets its objectives. According to the above explanation, foreign aid can impact multiple domains and fulfill multiple purposes. Supporting recipient countries' long-term capacity building, political development, and poverty reduction are the main goals of aid. Aid, however, has an effect beyond the local area. Aid policies can also strengthen donor nations' soft power and advance global trade.

**By: Nasrullah Stanekzai**
**Economic Researcher, Monetary Policy Department**

**Sources:**

1. https://www.developmentaid.org/news-stream/post/80/80-2
2. https://connectusfund.org/20-advantages-and-disadvantages-of-foreign-aid-to-developing-countries
3. https://www.developmentaid.org/news-stream/post/80/pros-and-cons-of-humanitarian-aid
4. https://www.nottingham.ac.uk/credit/documents/papers/98-08.pdf
5. https://dc.uwm.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=3772&context=etd

tors of the economy or geographical areas. Thirdly, it can lessen the motivation for the private sector to make investments or raise productivity. Aid, for instance, has the potential to weaken the price competitiveness of the production of all trade products by causing currency appreciation (sometimes referred to as the Dutch disease). Furthermore, if food aid is not properly managed, it might lower prices and negatively impact the beneficiaries' farm industry revenue.

Fourth, aid flows have the potential to lower private and public domestic savings by influencing the interest rate and government income, respectively. Fifth, it can aid in the maintenance of corrupt regimes, making them resistant to significant change and willing to continue with unfavorable economic practices.

**Aid's Conditional Effects on Growth**

According to the third school of thought (Mosley, Hudson, and Horrell 1987; Isham, Kaufmann, and Pritchett 1997; Svensson 2000b; Burnside and Dollar 2000; Collier and Dollar 2002; Kosack 2003; Dollar and Levin 2005; Islam 2003; Wagner 2014), the effectiveness of aid is conditional and depends on specific circumstances of the recipient countries. Mosley, Hudson, and Horrell (1987), for instance, discovered no connection between aid and the rate of GNP increase. Subsequently, they contended that the level of economic and financial development of the receiving nations affected the effectiveness of assistance delivery and that the economic institutions of the recipient countries contributed to this relationship.

In particular, the authors argued that the undeveloped economic system facilitates the easy flow of aid funds into the public and private sectors through wasteful spending, which has a negative impact on market prices. Later, Burnside and Dollar (2000) looked at 59 nations between 1970 and 1993; they discovered that aid is only positively correlated with economic growth in nations that support trade openness and economic freedom and adopt market-friendly economic policies.

Wagner (2014) discovered that there is a nonlinear relationship between growth and aid. In particular, he demonstrated that help is only beneficial beyond a threshold level and that aid above that point becomes detrimental to growth, based on data collected for 89 developing nations between 1970 and 2009. The study also discovered that the economic stability of recipient nations affects the aid inflow threshold.

In other words, aid is more beneficial to nations that are unstable and economically fragile. Similarly, Rahnama, Fawaz, and Gittings (2017) examined 55 low-income and 56 high-income developing nations between 1970 and 2010 and discovered that while foreign aid favorably promotes growth in high-income developing countries, it damages growth in low-income developing countries.

**Growth**

Foreign aid has long been a preferred strategy for accelerating economic growth and reducing poverty in developing nations. Interestingly, the areas with the largest levels of foreign aid also have the highest rates of poverty, whereas those with lower aid contributions have achieved significant advancements.

A number of academics contend that aid promotes capital accumulation, which in turn drives economic growth (Papanek, 1972; Levy, 1988; Islam, 1992; Hansen and Tarp, 2000; Aizenman, Jinjarak, and Park, 2013; Adeola 2017). They consider that the primary cause of poverty and underdevelopment is a lack of capital accumulation. Thus, the influx of aid contributes to the growth of capital resources that are available for use in different economic sectors. To be more precise, the funds can be utilized to ease restrictions on foreign exchange, grant access to new technology, enhance managerial abilities, and facilitate easier entry into international markets. These uses of foreign aid have the potential to foster economic expansion.

The poor are trapped in a cycle of poverty since they are unable to save money. As a result, the nation lacks domestic capital accumulation, which is a necessary component of growth and government investment. Savings can only occur when a country or individual has an income over what is needed for subsistence. The economy is unlikely to expand when a large number of people must spend all of their money in order to exist. From this angle, foreign aid can therefore be a crucial component to augment those low capital accumulations and function as a major catalyst to help emerging nations escape the poverty trap and boost their national economies.

The beneficial effects of foreign aid on economic growth were later supported by other research that used more advanced model specifications and techniques. For instance, Moreira (2005) discovered a favorable correlation between aid and growth for 48 developing nations between 1970 and 1998 using the Generalized Method of Moment (GMM) approach. Arndt, Jones, and Tarp (2010) proposed that aid has a long-term, positive, and statistically significant causal effect on growth.

**Negative Effects of Foreign Aid on Growth**

Another group of researchers contend that foreign aid does not always increase the recipient country's domestic resources and offer five reasons why aid is ineffective, which stands in contrast to the findings of a positive relationship between aid and economic growth (Friedman 1958; Bauer 1972; Werlin 2005; Easterly 2006; Collier 2007; Moyo 2009). Firstly, the funds might be squandered on the leaders' and government officials' personal expenses. Secondly, it might promote corruption in aid initiatives and policies, as well as in broader contexts like funding unplanned sec-



# The Effects of Foreign Aid on Economic Development

There is not a single consensus on the definition of the words "development aid," "foreign aid," and "humanitarian aid," despite their frequent use. As described by different scholars, it means any funds, supplies, or training provided to another nation by a nation-state or a multilateral organization (like the European Union, World Bank, and the UN) is referred to as foreign aid. The history of development aid dates back more than a century, when European nations would give their colonies military supplies, equipment, and training—even though military help is hardly considered international aid in modern times.

Examining the efficacy of foreign aid is therefore essential for the efficient and correct implementation of the policy, given the sizeable amount of aid and the nations and individuals involved in this industry. Whether or if the foreign aid policy meets its objectives is what is meant by "effectiveness of aid" in this context. And if so, how much of it? The primary objective of development aid is to improve the social and economic well-being of the recipients' populations.

In particular, the aid is meant to support recipient nations in allocating funds to alleviate poverty, end hunger, end malnutrition, and eradicate illness. Additionally, it is given to them so they can build the fundamental social and economic infrastructure needed to boost the nation's competitiveness and productivity. For this reason, the most important and rich area of analysis when it comes to aid effectiveness is the recipient nation's economic growth.

**Positive Effects of Foreign Aid on**

# د افغانستان بانک خبرتیا!

د افغانستان بانک د هېواد د پولي بازارونو د لا ښه تنظیمولو لپاره په شرایطو برابرو اشخاصو ته د شرکت تر عنوان لاندې د صرافیو او پولي خدمتونو د فعالیت جوازونه صادر کړي دي. دا شرکتونه اړ دي څو له پلي کېدونکو قوانینو او مقرراتو سره سم فعالیت وکړي. د هېواد په ټولو پولي بازارونو کې له جواز پرته د اشخاصو فعالیت منع او غیر قانوني دی. له همدې امله له ګرانو هېوادوالو څخه غوښتل کېږي څو د قوانینو او مقرراتو د پلي کېدو او د خپلو پولي معاملو د خوندیتوب په موخه جواز نه لرونکو اشخاصو سره د معاملو له ترسره کولو په جدي توګه ډډه وکړي او خپله ملي دنده ترسره کړي.






بانک The Bank
February 2024
شماره ۱۹۹ - رجب المرجب ۱۴۴۵ - دلو ۱۴۰۲